مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۷ د تلې ۲۳مه | د ۲۰۱۸ د اکتوبر ۱۵مه | دویم کال| ۲٦۸مه ګڼه

## هیواد

۴ مخ

### جیبوتي

د دغه هېواد ۷۵ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې په کار بوخت دي او د هېواد څلور سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له دغه سکټور څخه لاسته راځي.



## په ننګرهار کې د پنځوس بستریز روغتون د جوړېدو چارې پیل شوې



د ننګرهار د عامې روغتیا ریاست چارواکي وايي، د دغه ولایت په هسکه ولسوالۍ کې د پنځوس بستریز روغتون د جوړېدو چارې پیل شوې دي.

چارواکي وايي، دغه روغتون په ۵۵ میلیونه افغانیو رغول کېږي او په دوو کلونو کې به یې چارې بشپړې شي.

د یادې ودانۍ د بنسټ ډبره د تلې په ۲۲مه د ځایي چارواکو له لوري د هسکې مېنې ولسوالۍ په مرکز کې کېښودل شوې وه.

د ننګرهار د عامې روغتیا رییس ډاکتر نجیب الله کامه وال د دې ودانۍ د بنسټ ډبرې اېښودلو مراسمو پر مهال پژواک ته ویلي چې د هسکې مېنې ولسوالۍ خلک د روغتیا په برخه کې له ګڼو ستونزو سره مخ دي.

نوموړي ویلي، د همدغو ستونزو د حل لپاره یې د عامې روغتیا وزارت له انکشافي بودجې څخه د ۵۵ میلیونه افغانیو په لګښت د یو اساسي روغتیایي کلینیک د جوړېدو د بنسټ ډبره کېښوده.

# امنیتي ځواکونه د اغزن سیم پر ضد له پاکستان سره جګړه کوي، خو ارګ په دې اړه پر پټه خوله تورن دی



۳

### د سولې نوې هیلې

۲ مخ

### غزني ولې د ولسي جرګې راتلونکې نوې دورې ته زاړه وکیلان لېږي؟

۳ مخ

### د سفر پرمهال مو روغتیا او غذايي رژیم ته پام وکړئ!

۵ مخ

## په فراه کې افغان ځواکونو ته درنه مرګ ژوبله اوښتې

د فراه ولایتي چارواکي، ورمه شپه د دغه ولایت په پشت رود ولسوالۍ کې له وسله والو طالبانو سره په جګړه کې د افغان پوځ سرتېرو ته درنه مرګ ژوبله اوښتې ده، خو د شمېر په اړه یې یوه خوله نه دي.

د فراه د ولایتي شورا رییس فرید بختور د دغه ولایت د پشت رود په ولسوالۍ کې د افغان پوځ پر پوستو د وسله والو طالبانو د ورمې شپې په برید کې افغان پوځ ته د رسېدلو تلفاتو په اړه وویل چې په دغه جګړه کې د ملي اردو لس سرتېري وژل شوي او پنځه نور ټپیان دي.

بختور ویلي چې د وسله والو طالبانو له خوا د پشت رود ولسوالۍ د «دوکین» په سیمه کې د ملي اردو په دوو پوستو له برید وروسته یوولس سرتېري لا درکه شوي هم دي.

خو د ۲۰۷ ظفر قول اردو ویاند نجیب الله نجیبي امریکا غږ اشنا راډیو ته ویلي چې د پشت رود ولسوالۍ د ورمې شپې په جګړه کې د ملي اردو څلور سرتېري وژل شوي، پنځه نور ټپیان او درې نور لا درکه دي.

طالبانو په یوه اعلامیه کې د پشت رود په ولسوالۍ کې د ملي اردو د دوو پوستو د نیولو خبر ورکړی او ادعا یې کړې چې په دغو نښتو کې یې د ملي اردو پنځه ویشت سرتېري وژلي او دوولس ټپي سرتېري یې له ځان سره وړي دي.

## ۵۰ زره سرتېري د ټاکنو ورځې امنیت نیسي



۵ مخ

**مأموریت پشتیبانی قاطع:**

## ناتو در انتخابات افغانستان بی‌طرف خواهد بود




مأموریت پشیبانی قاطع، تأکید می‌ورزد که در انتخابات مجلس نماینده‌گان افغانستان که قرار است تا شش روز دیگر در کشور برگزار شود، هیچ نقشی نخواهد داشت.

سخنگوی این مأموریت، می‌گوید که نیروهای این پیمان برای پشتیبانی از حکومت افغانستان برای رسیدن به صلح در کشور حضور دارند و انتخابات پیشرو از سوی شهروندان کشور برگزار خواهد شد.

کانت پیتر که پس دیروز پس از چاشت در یک نشست خبری در کابل گفت: «می‌خواهم تأکید نمایم که ناتو در انتخاباتی که به روز شنبه برگزار می‌شود، به گونۀ جدی بی طرف خواهد بود. ناتو در تمامی روندهای انتخاباتی هیچ نقشی را بازی نخواهد کرد.»

در این نشست خبری، سخنگویان وزارت های امور داخله و دفاع ملی، از تدابیر شدید امنیتی برای برگزاری انتخابات مجلس نماینده‌گان اطمینان داد.

نجیب دانش، سخنگوی وزرات امور داخله گفت: «نیروهای امنیتی، برای تأمین امنیت انتخابات مجلس نماینده‌گان در سه کمربند بسیج می‌شوند؛ در کمربند نخست که نزدیک به مرکزهای رأی دهی است، در آنجا بیشتر نیروهای پولیس و نهادهای کشفی و استخباراتی بسیج می‌شوند، در فاصله سه تا پنج هزارمتر، نیروهای ارتش مستقر می‌شوند و در کمربند سوم نیروهای مشترک پولیس، امنیت ملی و ارتش به گونۀ گزمه‌های سیار و ثابت وظیفه شان را اجرا می کنند.»



دریـځ

## د سولې نوې هیلې

په قطر کې د طالب استازو او زلمي خلیلزاد لیدنې او په دې تړاو خپرو شوو معلوماتو یو ځل بیا د افغان سولې په تړاو هیلې زیاتې کړې دي. په دې لیدنه کې چې دواړو لورو په رسمي ډول تایید کړې هم ده، په افغانستان کې د سولې پر لارو چارو خبرې شوې دي. دواړو اړخونو موافقه کړې چې دا خبرې به دوام کوي. الجزیرې ټلویزیون بیا په قطر کې د طالبانو د دفتر د یوه غړي په حواله ویلي چې دوی د امریکایي ځواکونو حضور د سولې پر وړاندې اساسي خنډ یاد کړی او زلمي خلیلزاد ورسره منلې چې د دغو ځواکونو د وتلو په تړاو به ورسره خبرې کوي.

د طالب استازو او زلمي خلیلزاد لیدنې خلک هیله من کړي دي. خلک له دوو اړخونو هیله من دي. یو دا چې امریکا یو افغاني الاصله امریکایی او د افغانستان پر چارو پوه ډیپلومات د سولې لپاره خپل استازی ټاکلی دی. بل له دې اړخه هیله من دي چې امریکایي استازي حاضر شوي، څو مخامخ له طالبانو سره کښېني او په افغانستان کې د جګړې پر ختمولو او د سولې په راوستلو خبرې وکړي.

له همغې لومړۍ ورځې چې د جګړې اړخونو د سولې او سیاسي جوړجاړي خبرې کړې دي، د سولې پر وړاندې یو ستر او بنسټیز خنډ همدا و چې طالبانو له امریکا سره د مخامخ خبرو غوښتنه کوله او امریکا بیا ټینګار کاوه چې طالبان باید له افغان حکومت سره خبرې وکړي. څه نور لاملونه به هم وو، خو همدې چارې د سولې مخامخ او رغنده خبرې کلونه کلونه وځنډولې. په دې موده کې نه وسله وال مخالفین له خپل دریځه په شا شول او نه هم امریکا. اوس چې د امریکا له اړخه د سولې خبرو زور اخیستی، نو ورسره دا بدلون شته چې امریکایي استازي حاضرېږي چې له وسله والو طالبانو سره مخامخ خبرې وکړي. که څه هم امریکایي چارواکي بیا بیا د افغان حکومت په مشرۍ او مالکیت د سولې د خبرو یادونه کوي، خو په عمل کې امریکایي ډیپلوماتان حاضر شوي چې له وسله والو طالبانو سره خبرې وکړي او افغان جګړې ته د سوله ییزې حللارې د موندلو لپاره بحث او خبرې وکړي. همدا بدلون هیلې زیاتوي او ډېری افغانان فکر کوي چې په دې سره د سولې پر وړاندې یو لوی خنډ له مخې لرې شوی دی.

که امریکایي چارواکي په هغه څه کې رښتیني وي چې اوس یې وایي، نو له شک پرته چې له طالبانو سره مخامخ خبرې د سولې هڅې بریالۍ کولی شي. اوس پکار ده چې افغانان په پوره ځواک د دې خبرو ملاتړ وکړي. دغه راز له نږدې یې وڅاري او که دا خبرې پر یوه بله ناوړه معامله اوړي، نو مخه یې باید ونیسي. د افغان ولس غوښتنه سوله ده او له همدې امله په قوت د سولې د هڅو ملاتړ کوي. ښکېلو لورو ته هم پکار ده چې د چل، فریب او ناوړه معاملې پر ځای د رښتینې سولې لپاره هلې ځلې وکړي او افغان جګړه له سوله ییزې لارې ختمه کړي.

د لوگر د اطلاعاتو او فرهنگ چارواکي:

## سرِ کال د عینک مسو له سیمې ۱۵۰ قلمه تاریخي اثار ترلاسه شوي



د لوگر د اطلاعاتو او کلتور ریاست چارواکي وایي چې سرِ کال د عینک مسو له سیمې ۱۵۰ قلمه تاریخي اثار ترلاسه شوي چې تر ترمیم او پاکارۍ وروسته به د کابل موزیم ته وسپارل شي.

د لوگر د اطلاعاتو او فرهنگ رییس محمد شفیق پوپل تېره ورځ پژواک خبري اژانس ته وویل چې له تېرو نهو کلونو راهیسې د نړیوال بانک او یونسکو ادارې په مالي او تخنیکي مرسته د مس عینک په سیمه کې د تاریخي اثارو کیندنې روانې دي.

ده وویل چې د همدې کیندنو په ترڅ کې سرِ کال ۱۵۰ قلمه بېلابېل تاریخي اثار ترلاسه شوي دي.

د پوپل په وینا، د دې سیمې د تاریخي اثارو قدامت د کوشیانیانو زمانې ته رسېږي چې د کیدنې په برخه کې یې د تخنیکي او مسلکي انجنیرانو تر څنگ ۳۳٦ کسان هره ورځ کار کوي.

دغه راز په دې اړه د لوگر د اطلاعاتو او فرهنگ ریاست د لرغون پېژندنې مدیر عبدالشکور محمدي پژواک ته وویل چې له مس عینک سیمې د ترلاسه شوو تاریخي اثارو لومړنۍ پاک کاري او ترمیم په لوگر کې ترسره کېږي.

ده وویل: «د کومو اثارو چې قیمت لوړ وي، هغه کابل ته لېږو، څو هلته یې په موزیم کې وساتي او پاتې نور یې بیا دلته د عینک په موزیم کې ساتل کېږي.»

د محمدي د معلوماتو له مخې، په ترلاسه شوو اثارو کې سفالي، مسي، گچي، خټین، برونزي توکو تر څنگ مجسمې هم ترلاسه شوې دي.

په دې اړه د لوگر ولایتي شورا غړي عبدالولي وکیل ویلي چې د مس عینک په سیمه کې د تاریخي اثارو د کیندنې لړۍ ټکنۍ روانه ده.

هغه وایي: «دغه کار باید په دوو کلونو کې خلاص شوی وای، خو د حکومت د بې غورۍ له امله دغه لړۍ لسو کلونو ته وغځېده.»

وکیل د چا نوم یاد نه کړ، خو زیاته یې کړه چې ځینې کړۍ هڅه کوي څو په دې سیمه کې د مس عینک کان د کیندلو مخنیوی وکړي.

نوموړي ویلي: «کله چې د مس عینک کان تړون له چینایي کمپنۍ سره لاسلیک شو، دلته په کې د تاریخي اثارو موضوع را پورته شوه چې بیا د تاریخي اثارو مسئله په کې را پورته شوه، زه له دغه کار سره مخالف یم چې د تاریخي اثارو لپاره دې د کان کیندلو چارې ودرېږي؛ ځکه د تاریخي اثارو ډېر یې تخریب شوي او د جوړېدو امکان یې نشته.»

د لوگر د اطلاعاتو او فرهنگ ریاست چارواکو د معلوماتو له مخې، تر اوسه د مس عینک له سیمې درې زره قلمه تاریخي اثار ترلاسه شوي دي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون:

## ټاکنې به له بایومېټریک سیستم نه په استفادې پر ټاکلي وخت وشي



وروسته له هغې چې یو شمېر سیاسي گوندونو په ټاکنو کې له بایومېټریک سیستم نه د استفادې په اړه اندېښنه څرگنده کړه، اوس د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي چې ټاکنې به د بایومېټریک سیستم نه په استفادې پر ټاکلي وخت او په شفاف ډول ترسره شي.

د دغه کمېسیونویاند سید حفیظ الله هاشمي د یکشنبې په ورځ یوې خبري ناستې ته وویل چې د ولسي جرگې په ټاکنو کې په لومړي ځل د بایومېټریک سیستم او رایه ورکوونکو له نوملړ نه استفاده په ټاکنو کې د شفافیت ښکارندویي کوي.

نوموړي زیاته کړې: «هغه راپورنه چې مخکې خپاره شول چې بایومېټریک د تصویر د شناخت وړتیا نه لري، دغه مسئله سمه نه ده، خپله بایومېټریک چې افلاین وسیله ده، د پېژندنې وړتیا نه لري، خو کله چې سروې ته ځي، داسې سیستم شته چې څېرې وپېژني او د شهادت گوته معلومه کړي او تکرار چهرې او تکراري گوتې ته اجازه نه ورکوي.»

هاشمي دغه راز ویلي، ټولو ولایتونو ته حساس او غیر حساس مواد انتقال شوي او دغه بهیر اوس د ولسوالیو مرکزونو ته پیل شوی او تر جمعې به بشپړ شي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي، د بایومېټریک سیستم د استفادې لپاره شاو خوا ۲۱ زره کسانو ته زده کړې ورکول کېږي.

دا څرگندونې داسې مهال مهال کېږي چې تازه یو شمېر سیاسي گوندونو ویلي چې د بایومېټریک دستگاوې تخنیکي ستونزې لري او هغه کسان چې له دغو دستگاوو د ټاکنو په ورځ استفاده کوي، له ځینو ډلو او کسانو سره یې د تړاو په اړه اندېښمن دي.

له دې وړاندې د افغانستان د لوی ملي ائتلاف غړو ویلي وو چې په کابل کې یو شمېر سفارتونه د ځانگړو کاندیدانو په بریالیتوب کې رول لوبوي او د بایومېټریک سیستم له سیاسي جریانونو او گوندونو سره یوه ماشومانه لوبه ده.

خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي، هر هغه څوک چې په دې پروسه کې مداخله وکړي، له دندې به وشړل شي او عدلي او قضایي بنسټونو ته به معرفي شي.

په ورته وخت کې د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو د بنسټ رییس محمد نعیم ایوب زاده وایي، په ټاکنو کې د بایومټریک سیستم نه استفاده گټوره ده، خو په دې شرط چې ښه مدیریت یې وشي.

نوموړی زیاتوي: «د انتخاباتو په ورځ یې مدیریت او د انتخاباتو د بهیر له نورو برخو سره یې همغږي کول کولای شي له شفافیت سره مرسته وکړي، فعلاً تیاري نیول شوي دي، خو موږ د بایومېټریک سیستم د مدیریت په اړه اندېښمن یو، یعنې هغه معلومات چې له بایومېټریک سیستم نه ترلاسه کېږي، باید ښه مدیریت شي او په ټوله کې په ۳۳ ولایتونو کې ښه تنظیم شي او د شفافیت لپاره یوه ښه اله وگرځي.»

ایوب زاده وایي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون باید خپل عملیاتي فعالیتونه چټک کړي او له بایومېټریک سیستم نه د استفادې لپاره زیات وخت ځانگړی کړي، څو بایومېټریک سیستم په ښه توگه مدیریت شي.

مشرانو جرگه:

## له طالب استازو سره د خلیلزاد لیدنه یو ښه پیغام دی



د مشرانو جرگې غړي وایي، که امریکا دې نتیجې ته رسېدلې وي چې د افغانستان جگړه ختمه شي، د خلیلزاد سفر یو فرصت دی او نتیجه به یې سوله وي.

د افغانستان د مشرانو جرگې رییس فضل الهادي مسلمیار د یکشنبې په ورځ د جرگې په عمومي غونډه کې وویل، زلمی خلیلزاد چې د افغانستان او سیمې له وضعیت سره بلد دی، نقش به یې د سولې د خبرو په پیلېدو کې اغېزناک وي، خو د ده په نظر، د دغه بهیر د تحقق لپاره باید جهادي مشران همکاري وکړي.

نوموړي زیاته کړې: «د خلیلزاد صاحب راتگ، د سولې په پروسه کې یې داخلېدل او پر نوموړي د امریکا د حکومت باور کول، د افغانستان خلک ورته خوشبین دي، ان شاالله باوري یو چې دغه حرکتونه به حتماً رایه راوړي، افغانان یو د بل په خبرو ښه پوهېږي، ښه پیغام دی، خدای دې وکړي چې افغان حکومت هم له دغې موقع نه په گټې اخیستنې سره، په هر حرکت کې، دوی سره شریک وي او له خلیلزاد نه مو هم غوښتنه ده چې د هر حرکت او پرمختگ راپور ولسمشر او د هېواد مشرانو ته ورکړي.»

د سولې د خبرو د پیلېدو لپاره د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت د ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد سفرونو سولې ته خلک هیله من کړي او یو شمېر سناتوران وایي، که امریکا وغواړي، ممکن له طالبانو سره د سولې د خبرو پیلېدل، یوه ورځ هم ونه نیسي.

خو اوس چې د طالبانو ډله په قطر کې له خلیلزاد سره د خپلو استازو لیده کاته تائیدوي، د مشرانو جرگې رییس په دې باور دی چې دغه لیده کاته هرو مرو نتیجه لري.

زلمی خلیلزاد شاوخوا یوه میاشت مخکې د افغانستان د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ځانگړي استازي په توگه وگمارل شو.

دغه افغاني الاصله امریکایي چارواکی هغه څېره ده چې تل یې پر پاکستان د فشارونو پر راوړلو ټینگار کړی دی.

دی پر دغه دنده له گمارل کېدو وروسته او د خپل لس ورځني سفر له پیل سره سم کابل ته راغی او له حکومت او طالبانو یې وغوښتل چې د سولې د خبرو اترو لپاره خپل استازي وټاکي.

د مشرانو جرگې غړی گل احمد عظیمي وایي، د هغو هېوادونو د مداخلو د مخنیوي لپاره چې غواړي افغانستان د جگړې په میدان بدل کړي، د خلیلزاد هڅه ښه فرصت دی او باید گټه ترې واخیستل شي: «هیله مند یو دغه اقدامات چې نوي پیل شوي، دې ته لاره جوړه کړي چې افغان دولت او د دولت مخالفین مخامخ سره کیني، د افغانستان جگړه د امریکې او روسیې او د هند او پاکستان او ایران او عربو جگړه ده، دا یوې نړیوالې اجماع ته اړتیا لري.»

په ورته وخت کې د نړیوالو اړیکو پوه ودیر صافی وایي، که حکومت ونه شي کولی له دغه فرصته گټه واخلي او دیني عالمان هم ورسره همفکره نه شي، دغه خوځښت به نه یوازې دا چې گټه ونه لري، بلکې افغانستان به د بحران په لور بوځي.

# غزني ولې د ولسي جرګې راتلونکې نوې دورې ته زاړه وکیلان لېږي؟

لیکنه: ګلاب الدین سرابي

د ټاکنو کمېسیون په یوه نادر اقدام کې په ډاګه کړې چې له ټاکنو وروسته به د غزني زاړه وکیلان په ولسي جرګه کې خپلو دندو ته دوام ورکړي.

غزنی په اوسنیو پارلماني ټاکنو کې شامل نه دی. په تېرو پارلماني ټاکنو کې د غزني په ۱۴ ولسوالیو کې د نا امنی له کبله ټاکنې و نه شوې او ولسي جرګې ته ټول ۱۱ تنه له دریو هزاره مېشتو ولسوالیو څخه راغلل چې تر اوسه پورې د غزني د وکیلانو په نوم په ولسي جرګه کې پاتې دي او امتیازات اخلي.

که د ولسي جرګې ارشیف وکتل شي، نو دغو ۱۱ وکیلانو به په تېرو اتو کلونو کې د پښتنو سیمو د ستونزو په اړه حتی یوه خبره هم نه وي کړې.

په دې کې خو سوال نه پیدا کېږي چې دوی به د غزني د غیر هزاره وګړو نمایندګي کړې وي.

پوښتنه دا ده چې د ټاکنو کمېسیون ولې له خپل صلاحیته پورته مسایلو کې لاسوهنه کوي؟ د افغانستان د قوانینو له مخې د ټاکنو کمېسیون یوازې د ټاکنو د مدیریت صلاحیت لري. د دې مانا دا ده چې د دوی کار انتخابات دي، نه انتصابات.

خو دا چې اوس دوی وایي، د غزني زاړه وکیلان به خپل کار ته دوام ورکوي دا د دوی خبره نه ده، بلکې له ارګه ورته دیکته شوې ده.

د معلوماتو له مخې په دې وروستیو کې کریم خلیلي او اشرف غني د غزني پر سر یوې معاملې ته رسېدلي دي. معامله داسې ده چې غني به په ولسي جرګه کې د غزني د اوسنیو وکیلانو په موجودیت باندې غرض نه لري او خلیلي به په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې د غني حمایت کوي. تر دې هم پورته ایران اصلاً د دې معاملې یو اصلي لوری دی.

ایران غواړي چې د غزني له وضعیت څخه د ځان په ګټه استفاده وکړي.

د غزني ۱۱ وکیلان چې د همدې معاملې په بدل کې په ولسي جرګه کې پاتې کېږي، د ایران د ګټو لپاره د لابي یو ګروپ دی. پر دې سربېره دا وکیلان کولای شي چې له ځان سره نور هم یو ځای کړي او په هغو مسایلو کې د ایران لپاره لابي وکړي چې ایران یې په افغانستان کې غواړي. د بېلګې په ډول، د اوبو مسئله چې په دې وروستیو کې په یوه حاده مسئله بدله شوې ده او اشرف غني هم د کمپاین په توګه ترې تبلیغاتي ګټه اخلي. ایران په دې فکر کې دی چې که اشرف غني ټاکنې وګټي، خو معامله ورسره اسانه ده او که له ده وروسته کوم بل داسې څوک راځي چې د افغانستان ګټې ورته رښتیا هم لومړیتوب او ارزښت لري، بیا نو دوی ته په کار ده چې سر له اوسه په پارلمان کې داسې یوه ډله ولري، چې پر حکومت د فشار په واسطه د دوی ګټې خوندي کړای شي.

د داسې ډلې جوړول د ایران لپاره سخت نه دي؛ ځکه همدا اوس هم په ولسي جرګه کې دننه او د باندې ډېرو سیاستوالو ته پیسې ورکوي، خو د غزني مسئله له ایران څخه هومره زیاته پانګونه نه غواړي، لکه نوی ګروپ چې یې غواړي. له همدې کبله دوی پر غزني تمرکز کوي. خلیلي هم یوازې د ۱۱ وکیلانو او هزاره ایزم مسئلې ته دومره ارزښت نه ورکوي، بلکې غواړي چې د خپلو شتمنیو، غصب کړیو ځمکو او نورو ناقانونه کارونو حساب کتاب ورسره و نه شي.

د خلیلي ورور په کابل او بامیانو کې دولتي او نادولتي ځمکې غصب کړې او د اداري فساد په ډېرو قضیو کې لاس لري، نو خلیلي هم غواړي چې په ولسي جرګه کې داسې یوه ډله ولري چې د ضرورت پر وخت د ده د ګټو دفاع وکړي. اوس نو خبره ټوله د غزني پښتنو او نورو قومونو ته پاتې ده. دوی باید د خپل حق غږ پورته کړي او پرې نه ږدي چې پنځه کاله یې بیا په ولسي جرګه کې نه استازی وي او نه غږ. دوی باید د تېرو اتو کلونو له ترخو تجربو څخه دومره زده کړې وي چې هزاره که هر څومره ملي شي، بیا هم دومره نه کېږي چې له هزاره پرته دې د بل چا وکالت هم وکړي. د غزني پښتانه او نور قومونه باید د خپل حق پوښتنه وکړي. د دوی مدني حرکتونه کولای شي چې د اشرف غني او خلیلي دغه ناروا معامله په همدا لومړي سر کې خنثی کړي او د غزني د پښتنو لپاره جوړه شوې توطیه شنډه کړي.

# امنیتي ځواکونه د اغزن سیم پر ضد له پاکستان سره جګړه کوي، خو ارګ په دې اړه پر پټه هوکړه تورن دی



د کندهار امنیه قوماندان جنرال رازق وایي چې پر ډیورنډ کرښه د پاکستان له خوا د اغزن سیم د غځولو په اړه مرکزي حکومت چوپ دی، خو په وینا یې دی به د دغه ناقانونه کړنې پر وړاندې ودرېږي.

تېره ورځ د کندهار په سپین بولدک ولسوالۍ کې په ډیورنډ فرضي کرښه د افغان او پاکستاني ځواکونو ترمنځ تر هغه وروسته نښته پیل شوه چې د دغه ولایت د امنیه قوماندان جنرال رازق څو ورځې وړاندې وویل چې پاکستاني پوځ ته به اجازه ورنه کړي چې پر ډیورنډ کرښه اغزن سیم وغځوي.

په کندهار کې د سرحدي ځواکونو د دریمې لوا درستیزوال ډګروال امین الله وایي چې نښته تېره ورځ د سپین بولدک-ښورابک ولسوالیو ترمنځ د سرو ښاهانو په سیمه کې د پاکستاني پوځیانو له خوا د اغزن سیم د مخنیوي په غبرګون کې شوې ده.

ډګروال امین الله وویل چې امنیتي ځواکونو په سیمه کې د پاکستاني پوځیانو له خوا د اغزن سیم د غځولو مخنیوی کړی چې پاکستاني لوري وربانديې برید کړی او وروسته د دواړو لورو ترمنځ نښته رامنځته شوې ده. په ورته وخت کې پاکستاني پوځیان وایي چې د اغزن سیم په اړه له افغان چارواکو سره هوکړه لري، خو جنرال رازق دا هوکړه نه مني. په کابل کې چارواکي نه مني چې له پاکستان سره په دې اړه هوکړه لري، خو د پاکستان د دې کړنې په اړه یې تل سوړ غبرګون ښودلی دی.

د کندهار امنیه قوماندان جنرال عبدالرازق وایي، په وار - وار یې مرکزي حکومت ته خبر ورکړی، چې پاکستان په غیر قانوني توګه پر ډیورنډ کرښه اغزن سیم غځوي، خو چا یې پروا نه ده کړې.

د یادونې وړ ده، چې پر ډیورنډ کر ښه د پاکستاني پوځ له لوري د اغزن سیم د غځولو چارې یو کال وړاندې پیل شوې چې په ختیځو ولایتونو دا سیم غځېدلی او یوازې په جنوب کې یې پر وړاندې خنډ جوړ شو.

## روحاني:

# امریکا هڅه کوي چې د ایران رژیم نسکور کړي



د ایران ولسمشرحسن روحاني ویلي، د امریکا متحده ایالتونه هڅه کوي چې د ایران رژیم نسکور کړي.

روحاني د تهران په پوهنتون کې د نوي تحصیلي کال د پیلېدو په مناسبت په دې وینا کې وویل چې متحده ایالتونه له رواني اقتصادي جګړې چې پیل کړې یې ده، په استفادې او د ایران د اسلامي جمهوریت پر مشروعیت د انتقادونو له لارې غواړي، څو په دغه هېواد کې حاکم رژیم ړنګ کړي.

روحاني په دې اړه چې امریکا د تهران د رژیم د بدلولو لپاره څه ډول هڅې مخ ته وړې، نور جزئیات نه دي ورکړي، خو له دې مخکې ایراني چارواکو پر ایران د امریکا سیاسي او اقتصادي فشارونو ته په اشاره ویلي چې واشنګټن له دې لارې غواړې څو د ایران حکومت له منځه یوسي.

امریکایي چارواکو تر اوسه پورې د ایران د ولسمشر د دغې نوې ادعا په اړه څه نه دي ویلي، خو له دې مخکې د ولسمشر ټرمپ د اداري لوړپوړو چارواکو دغه تورونه تل رد کړي او ویلي یې دي چې پر ایران د فشارونو له زیاتېدو یې هدف دا دی، څو دا هېواد په سیمه کې د ترهګرو ډلو له ملاتړه لاس واخلي او خپل چلند بدل کړي.

تر دې وړاندې د امریکا د مخکیني ولسمشر بارک اوباما په اداره کې هم د ایران د رژیم د بدلولو مسئله ډېره ګرمه وه.

د هغه د اداري د بهرنیو چارو وزیر جان کري څه ویلي و چې د سعودي عربستان او اسرائیلو په ګډون چې د دواړو اړیکې له ایران سره خرابې دي، د سیمې یو شمېر هېوادونو د امریکا له اداري څخه غوښتي و، څو د ایران د رژیم د بدلولو لپاره پوځي اقدام وکړي.

د ایران او امریکا ترمنځ کړکېچ وروسته له هغې زیات شو چې ولسمشر ډونالډ ټرمپ د نړۍ له قدرتونو سره د ایران د ۲۰۱۵ ز کال له اټومي تړونه ووت او پر تهران یې بندیزونه بېرته ولګول.

دغه راز په پام کې ده چې متحده ایالتونه به په راتلونکې نومبر میاشت کې پر ایران نور بندیزونه چې د دغه هېواد د تېلو صادرات پکې په نښه کېږي، هم ولګوي.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اړینې ځانګړنې

### ۲۱ هغه ځانګړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

لیکوال: جان مکسوېل
ژباړن: میراحمد یاد

### شپږمه ځانګړنه
### زړورتیا:



**(۱) زړورتوب له باطني جګړې پیلېږي**

د رهبر په توګه چې له هر ازمېښت سره مخ کېږئ، پیل به یې له تاسې وي. د زړورتوب ازمېښت هم همداسې در واخلئ. لکه د ارواپوهنې متخصص شلډن کوپ چې وايي: (ټولې سترې جګړې له ځان سره کېږي.) زړورتوب وېره نه ده، بلکې د هغو کارونو ترسره کول دي چې وېره ترې احساسېږي. زړورتیا، یعنې د بلدو پرېښودل او نابلدو ته تلل. ریکن بیکر داسې انسان و او تاسې هم داسې کېدای شئ.

**(۲) زړورتوب د کارونو سمول دي، نه ختمول**

د مدني حقونو د خوځښت رهبر (مارټین لوتر کینګ) به ویل: (د نارینتوب معیار دا نه دی چې هغه د هوساینې پر وخت کوم ځای کې ولاړ دی، بلکې معیار دا دی چې د ستونزو او شخړو پر وخت کوم ځای کې ودرېږي.) ستر رهبران ښه انساني مهارتونه لري. دوی خلک ګډ کار او همکارۍ ته رابللی شي، خو د اړتیا پر وخت دریځ هم خپلوي.

زړورتوب له اصولو سره کار لري، نه له درک سره. که په دې پوه نشئ چې څوک باید دریځ ونیسي او د دې کار لپاره له زړه څخه هوډ ونه لرئ، ښه رهبري نشئ کولای. په تاسې کې باید د خلکو د خوشالولو له غوښتنې نه د بالقوه وقف کېدو وړتیا زیاته وي.

**(۳) د رهبر زړورتوب د پیروانو تعهد اغېزمنوي**

بیلي ګراهام وايي: (زړورتوب خپرېږي، یو کس چې زړه وکړ او مخکې شو، ورپسې خلک هم زړور کېږي. یو کس چې زړورتیا وښوده نور هم ورته هڅېږي، خو رهبر چې زړورتوب وکړي، نور خلک ترې الهام اخلي او دا خپله د دې لامل کېږي چې خلک ورپسې روان شي. زما ملګری (جیم ملادو) وايي: (رهبري هغه زړورتیا ښودل دي چې نور خلک سمو کارونو ته هڅوي.)

**(٤) ژوند مو په زړورتیا وده کوي**

وېره رهبران محدودوي. تاریخپوه تاسیتوس وايي: (له خوندیتوب سره مینه د لویو کارونو مخه نیسي.) خو زړورتوب برعکس اغېزه لري، دا دروازې پرانیزي او همدا یې ستره ښېګڼه ده. ښايي له همدې امله به جان هنري نیومن وايي: (له دې مه وېرېږئ چې ژوند به مو پای ته ورسېږي، له دې ووېرېږئ چې ژوند مو لا نه دی پیل کړی.) زړورتیا نه یوازې ښه پیل درکوي بلکې ښه راتلونکی هم درته برابروي.

جالبه دا ده، څوک چې د خطر منلو زړه نه لري او څوک یې چې نه لري، دواړه په ژوند کې یو ډول وېره احساسوي. توپیر یوازې دا دی څوک چې خطر نه مني، هغه وړو شیانو ته زړه خوري. که غواړئ چې په وېره او شکونو برلاسي شئ، نو زړه ورته لوی کړئ.

**پر دې فکر وکړئ**

روزوېلټ به ویل: (په هر ځای کې چې د وېرې پر وړاندې ودرېدئ، قوت، زړورتوب او په ځان باور ته رسېږئ. تاسې کولای شئ ځانته ووایئ چې ما دا وېره شاته کړه او نورې وېرې هم شاته کولای شم. هغه کارونه باید وکړئ چې تاسې یې ځان له نورو عاجز بولئ. )

له وېرې سره څنګه مخ کېږئ؟ آیا د وېرې مخې ته ورځئ؟ آیا دومره مو ځان خوندي کړی دی چې وېره بېخي نه احساسوئ؟ کوم بدلونونه باید راوړئ چې په ژوند کې زړورتیا پیدا کړئ؟

**د رسېدو لار**

**د زړور کېدو لپاره لاندې کارونه وکړئ:**

- ورسره مخ شئ. دا ور او هغه ور ووهئ او د خپل ځان د زړور کولو لپاره ځینې کارونه وکړئ، پسې وګرځئ، په پراشوټ کې ځان را خوشې کړئ، د خلکو په مخکې خبرې وکړئ (ځینې خلک له خبرو وېرېږي.) په یوه ننداره کې ولوبېږئ. په تېزو څپو کې بېړۍ وچلوئ. غرونو ته وخېژئ. هر څه چې کوئ، هغه کار مهم نه دی، مهمه دا ده چې له رښتینې وېرې سره مخ شئ.
- له هغه کس سره خبرې وکړئ. زیاتره خلک په ژوند کې داسې خلک لري چې له هغوی سره له خبرو کولو وېرېږي. که تاسې هم داسې څوک لرئ، همدا اونۍ ورسره وغږېږئ. تریخ چلند ورسره مه کوئ، کنځلې ورته مه کوئ، بلکې حقایق ورسره په ډېره مینه شریک کړئ او خبرې ورسره وکړئ.
- لوړ ګام پورته کړئ. ښايي په زړه کې مو د کار یا دندې بدلولو وېره وي. خو که ستاسې زړه وايي چې دا کار یا دنده پرېږده او بل پیل کړه، نو همدا نن د زړه خبره ومنئ. د ژوند له ملګري/ملګرې سره مشوره وکړئ، که پوه شوئ چې دا ستاسې د خوښې کار دی، دستي یې پیل کړئ.

**له تجربې زده کړه**

یوه کس په یوه ځای کې وینا کوله، له وینا وړاندې ورته وویل شول چې په دې تالار کې یو بل ستر چارواکی هم ناست دی، نو د خبرو پر وخت پام کوه. ده چې وینا پیل کړه ویې ویل: (ماته یې وویل چې په دې تالار کې یو بل چارواکی ناست دی او زه باید له خپلو خبرو سره پام وکړم، خو زه وایم چې که هغه چارواکی په خپلو کړیو ګناهونو توبه ونه باسي، نو دوزخ ته به لاړ شي.) له وینا وروسته هغه چارواکی دې ویناوال ته لاړ او ورته یې ویل: (صیب! که ما تا غوندې څو زړور ځوانان درلودای، نړۍ به مې نیولې وه.) یعنې زړورتوب زیاتره وخت ښې پایلې هم لري.

**دوام لري...**

# جیبوتي

حشمت الله نوري



جیبوتي د افریقا لویې وچې په ختیځه برخه کې د ختیځ طول البلد د ۴۱ او ۴۳ درجو او د شمالي عرض البلد د ۱۱ او ۱۳ درجو ترمنځ موقعیت لري. پراخوالی یې ۸۴۶۱ کیلو متره مربع دی او له دې پلوه د نړۍ ۱۳۱م لوی هېواد دی.

شمال ته یې اریتریا، جنوب ته یې سومالیا، ختیځ ته یې د عدن خلیج او لوېدیځ ته یې ایتوپیا موقعیت لري.

جیبوتي سوځنده او وچه توده هوا لري. په دغه هېواد کې د تودوخې منځنۍ درجه د جنوري په میاشت کې ۳۰ درجې او په جولای کې ۳۵ درجې ثبت شوې ده. جیبوتي د عدن له خلیج او سره سمندرګي سره د نږدېوالي سره سره بیا هم لږ اورښت لري. په دغه هېواد کې د اورښت منځنۍ کلنۍ کچه ۲۰۰ میلي متره اټکل شوې ده.

د دغه هېواد پلازمېنه د جیبوتي ښار دی. د ټولو وګړو شمېر یې لس میلیون تنه اټکل شوی چې د نفوسو ګڼوالی یې په هر کلیو متره مربع کې ۳۵ تنه ښودل شوی دی.

همدا راز د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې د دریو ماشومانو د درلودلو اجازه لري.

جیبوتي د اداري وېش له پلوه په شپږو ولسوالیو وېشل شوی دی. جیبوتي، دانان، علي، صابح، تاجوره، اوباک، دایخیل، هال هال، ګوبیتوا او دورا د دغه هېواد لوی او مهم ښارونه دي. د دغه هېواد ٦۵ سلنه وګړي ګډ نژاده او ۳۵ سلنه نور یې له بېلابېلو نژادونو څخه دي.

۹۵ سلنه وګړي یې مسلمانان او پنځه سلنه نور یې مسیحیان دي.

د جیبوتي نوی اساسي قانون د ۱۹۹۲ ز کال د سپټمبر په څلورمه په یوه ټولپوښتنه کې تصویب او نافذ شوی دی. د دغه هېواد ولسمشر د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي او تر ۷۵ کلنۍ پورې څو ځلې کار کولی شي. لومړی وزیر یې د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي، خو د کابینې وزیران یې بیا د لومړي وزیر له خوا ټاکل کېږي.

د جیبوتي د مرستیالانو ټولنه یا شورا ٦۵ غړي لري چې ټول د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي.

د جیبوتي حقوقي نظام د فرانسې په مدني قوانینو، اسلامي اصولو او عنعنوي روایاتو ولاړ دی. ستره محکمه د دغه هېواد لوړ قضایي ارګان دی.

ملي ولسواک ګوند، د نوي کېدنې ولسواک ګوند، د خلکو د پرمختګ ګوند، د جیبوتي د پرمختګ ګوند، د خلکو ټولنپال ګوند او د عدالت او ولسواکۍ ګوند د دغه هېواد له لویو او مشهورو ګوندونو څخه دي.

جیبوتي د ۱۹۷۷ ز کال د جون په ۲۷مه له فرانسې څخه خپلواکي ترلاسه کړه، نو له همدې امله د جون ۲۷مه هر کال په دغه هېواد کې د خپلواکۍ د ورځې په نوم نمانځل کېږي.

همدارنګه دغه هېواد په ۱۹۷۷ ز کال کې د ګڼو نړیوالو ټولنو ترڅنګ د ملګرو ملتونو غړیتوب هم ترلاسه کړ.

جیبوتي په شمال ختیځه افریقا کې د سوداګرۍ د یوه ازاد زون په توګه د پام وړ ستراتېژیک موقعیت لري. له همدې امله د دغه هېواد اقتصاد په هغه خدماتي فعالیتونو متکي دی چې په دغه موقعیت پورې اړه لري. د جیبوتي ۷۰ سلنه خلک د هېواد په پلازمېنه کې مېشت دي. پاتې دېرش سلنه نور یې کوچیاني ژوند لري. په جیبوتي کې د کرنې سکټور د اورښتونو د کموالي له امله یوازې مېوې او سابه تولیدولی شي. دغه هېواد د خپلې اړتیا وړ ډېر خوراکي توکي له بهر څخه راوړي. جیبوتي په خپله سیمه کې د ټرانزیټ او سوداګرۍ یو لوی مرکز دی. دلته د لویو او کوچنیو بېړیو د سون توکو پمپ استېشنونه هر وخت فعال وي. په دغه مرکز کې له یوې بېړۍ څخه بلې بېړۍ ته د مالونو د لېږد چارې هم سرته رسېږي.

د دغه هېواد د ناخالصو کورنیو تولیداتو بیه ۲۵۰ میلیونو ډالرو ته رسېږي او د سړي سر کلني عاید اندازه یې ۲۲۱۴ ډالره اټکل شوې ده.

همدا راز د جیبوتي کاري ځواک څلور لکو کسانو ته رسېږي او د هېواد څلوېښت سلنه کورنۍ یې د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي.

د جیبوتي عواید ۵۰۰ میلیونو ډالرو او لګښتونه یې ۵۰۵ میلیونو ډالرو ته رسېږي.

ساختماني مواد، اوبلن ګاز، د بېړیو ورکشاپ، ټوکران، برېښنا، د خوراکي موادو پروسس، معدني اوبه، لبنیات، غوښه او لاسي کارونه د دغه هېواد په صنعت کې عمده رول لري.

د جیبوتي پنځه سلنه ځمکه د کرنې وړ ده. د دغه هېواد ۱۲ سلنه خاوره څرځایونو او ۸۳ سلنه یې غرونو، سیندونو، ډاګونو، غونډیو، ښارونو او د استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د دغه هېواد ۷۵ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې په کار بوخت دي او د هېواد څلور سلنه ناخالص کورني تولیدات له دغه سکټور څخه لاسته راځي.

ږدن، خرما، مېوې، عطري بوټي، سابه، غوښه، لبنیات، هګۍ او واښه د جیبوتي د کرنې او د څارویو مهم محصولات بلل کېږي.

سره زر، ګرانېټ، چونه، ګچ، مرمر او مالګه د دغه هېواد له لویو او مهمو کانونو څخه دي.

د صادراتو ټوله بیه یې ۱۰۵ میلیونه ډالره او د وارداتو ټوله بیه یې ۴۷۰ میلیون ډالره اټکل شوې ده.

مالیزیا، چین، هند، سعودي عربستان، اندونیزیا او پاکستان د دغه هېواد له لویو او مهمو سوداګریزو شریکانو څخه دي.

جیبوتي ۱۰۵کیلومتره د اورګاډي پټلۍ او شل هوايي ډګرونه لري چې پنځه یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د ټلېفون کوډ نمبر یې ۰۰۲۵۳ او د انټرنېټ کوډ نمبر یې جي ډي دی. د دغه هېواد درې لکه وګړي انټرنېټ ته لاسرسی لري.

په جیبوتي کې د رسنیو په برخه کې خصوصي سکټور ته د کار اجازه نشته. د دغه هېواد د رسنیو دولتي شرکت دوه ټلوېزیونونه، څلور راډیوګانې او څلور ورځپاڼې لري.

جیبوتي د ناخالص کورني تولید او سړي سر کلني عاید له پلوه د افریقا او نړۍ له پرمختلونکو هېوادونو څخه شمېرل کېږي. سربېره پر دې چې ۴۲ سلنه خلک یې د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي.

د دغه هېواد ۸۰ سلنه نارینه او ٦۰ سلنه ښځینه په لیک او لوست پوهېږي. زده کړې په دغه هېواد کې د ٦ نه تر ۱۵ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره جبري دي.

له میلاد څخه درې پېړۍ مخکې د ابله قوم د عربستان له ډاګونو څخه د جیبوتي اوسنۍ خاورې ته کډه شو او د دې سیمې په جنوبي ځمکو کې یې واړول. اوسني عفار یا ناقله د همدغه قوم لمسیان او کړوسیان دي. وروسته عیسی قوم چې په اصل کې د سومالیا له پخوانیو خلکو څخه دی، د جیبوتي جنوبي سیمو ته وخوځېد. عفار یې له دې سیمې څخه وشړل او په شنو ساحلي سیمو کې دوی مېشت شول. د اسلام دین په ۸۲۵ ز کال کې جیبوتي ته ورسېد او ډېر مشران او عادي خلک یې په اسلام مشرف شول. له دې وروسته د جیبوتي اقتصاد د عرب مسلمان سوداګرو لاسته ولوېد. په ۱٦ مه پېړۍ کې پرتګالیان جیبوتي ته ورسېدل. له پرتګالیانو څخه مخکې د جیبوتي اوسنۍ خاوره د مصریانو او نورو عربو او ترکانو له خوا هم اداره شوې وه. هغه وخت چې د سویس کانال جوړېدو، فرانسویان د دغه ځای ستراتېژیکي ارزښت ته متوجه شول. کله چې برېټانویانو د سیشلز ټاپو ونیوه، فرانسویانو د سیالۍ د برابرولو په پار د اوبوک بندر او شا و خوا سیمې په ۵۲۰۰۰ فرانګ واخیستې.

دغه سیمو په ۱۸۸۵ ز کال کې له سومالیا سره یو ځای یوه فرانسوي مستعمره جوړه کړه چې فرانسوي سومالیا نومېده. همدغه وخت له سومالیا سره د اوسني جیبوتي پولې د فرانسویانو له خوا په نښه شوې. په ۱۸۹٦ ز کال کې فرانسوي سومالیا او سومالیا سره جلا شول. فرانسویانو د فرانسوي سومالیا پلازمېنه له اوباک څخه د جیبوتي ښار ته ولېږدوله. په ۱۹۱۷ز کال کې د جیبوتي ادیسه بابا او ایتوپیا تر منځ د اورګاډي پټلۍ جوړه شوه. په دویمه نړیواله جګړه کې دا اړیکې پرې شوې، د اورګاډي پټلیو ته زیان ورسېد او فرانسې په ۱۹۴٦ز کال کې دغه اداري واحد د فرانسوي سیمې په نامه و باله.

د عفار او عیسی د قبیلو خلک هغه لومړني کسان وو چې د خپلې خاورې د خپلواکۍ لپاره یې متې ونغاړلې. که څه هم چې د دوی ډېر پاڅونونه له ماتې سره مخامخ شول، خو هڅې سړې نه شوې او د خپلواکۍ ناره ورځ په ورځ پیاوړې کېده. په ۱۹۵۸ ز کال کې فرانسوي سومالیا د فرانسوي ټولنې د هېوادونو په غړیتوب ومنل شوه.

په ۱۹٦۷ ز کال کې فرانسوي چارواکو د فرانسوي سومالیا نوم په عفار او عیسی واړاوه. په همدې کال کې د فرانسویانو او د عفار او عیسی د خپلواکۍ غوښتونکو ترمنځ په جګړو کې ډېر کسان ووژل شول او ځینې نور بندیان شول. همدغه وخت فرانسوي چارواکو د ۱۹٦۷ ز کال د جون په څلورمه د عفار او عیسی د سیمې لپاره نوی قانون جوړ کړ چې د هغه له مخې د دغه هېواد ټولې بهرنۍ اړیکې، دفاعي چارې، مالي او امنیتي مسئلې د هغه کمیسار له خوا اداره کېدې چې د فرانسې د دولت له خوا ګومارل کېده. په هغه دولتي ټولپوښتنه کې چې د همدغه قانون له مخې وشوه، د عفار او عیسی ٦۰ سلنه خلکو له فرانسې سره د یووالي او پاتې کېدلو لپاره رایه ورکړه.

په ۱۹۷۴ ز کال کې په ټوله سیمه او په تېره بیا په عفار او عیسی کې د پردیو یرغلګرو په ضد هلې ځلې زیاتې شوې. فرانسې چې په سیمه کې ډېرې ستونزې درلودې، تر نړیوال فشار لاندې د عفار او عیسی له خپلواکۍ سره موافقه وکړه. په هغه ټولپوښتنه کې چې د ۱۹۷۷ز کال په مې میاشت کې په دغه هېواد کې وشوه، ۹۸ سلنه خلکو د خپل هېواد د پوره خپلواکۍ لپاره رایه ورکړه. له دې سره جوخت د هېواد نوم بیا بدل شو او دا ځلې د جیبوتي په نامه ونومول شو. د دغه هېواد بشپړه خپلواکي د همدغه کال د جون په ۲۷ مه اعلان او د ملګرو ملتونو د ټولنې په غړیتوب ومنل شو. له خپلواکۍ څخه وروسته حسن ګولد د جیبوتي د ولسمشر په توګه وټاکل شو. په دې وخت کې د جیبوتي دولت د عفار او عیسی قومونو له ستونزو سره مخامخ وو چې هر یوه ډېر امتیازات غوښتل. ولسمشر چې خپله عیسی و، خپل لومړی وزیر یې د عفار له ډلې څخه وټاکه.

افغانستان او جیبوتي په خپلو کې هېڅ راز اړیکې نه لري. له افغانستان څخه تر جیبوتي پورې د هوا له لارې فاصله ۳۵۳۵ کیلو مترو ته رسېږي. دغه راز د کابل او جیبوتي تر منځ د وخت توپیر یو ساعت دی.

همیانی

# د سفر پرمهال مو روغتیا او غذايي رژیم ته پام وکړئ!

ژباړه: حمیدالله حمیدي

د رخصتیو او سفر پر مهال غذايي رژیم او روغتیا ته پام کول تر ټولو مهمه او اړینه خبره ده، خو ډېری کسان چې کله په رخصتۍ او یا هم کوم ځای ته په سفر ځي، خپل غذايي رژیم او روغتیا ته پاملرنه یې له پامه غورځولې وي. که څه هم چې د رخصتۍ او سفر پرمهال ډېری خواړه په هوټلونو، رستورانټونو او یا هم له نورو ملګرو او دوستانو سره په مېلمستیاوو کې خوړل کېږي؛ مانا دا چې خواړه تر ډېره پاک او صحي وي، خو بیا هم باید له دې کبله ورته پاملرنه وشي چې چاپېریال، هوا او د خوړو نوعیت توپیر کوي، نو باید زیاتی پکې ونه شي.

**۱- هڅه وکړئ چې د چکر پرمهال د خوړو پر ځای له ښکلو منظرو خوند واخلئ**

کله چې بل هېواد او یا سیمې ته په سفر ځئ، نو هڅه وکړئ، د دې پر ځای چې ډېر وخت په رستورانټ او هوټل کې تېر کړئ، د هماغه ځای له ښکلي طبعیت او شنو منظرو څخه خوند واخلئ. هڅه وکړئ چې د سفر پر مهال کوچنۍ او پر له پسې غذايي وعدې ولرئ، نه داسې چې په یو ځل او یو ځای کې ځان موړ کړی.

**۲- پلی تګ هېر نه کړئ**

داسې مه وایاست چې اوس نو په چکر او مسافرۍ کې یاست، څه مو چې زړه غواړي باید ویې خوری. د دې لپاره چې د رخصتۍ پر مهال مو وزن زیات نه شي، نو ارو مرو د ورځې په اوږدو کې یو څه وخت د هغه سیمې په پاکو او شنو ځایونو کې پلي تګ ته ځانګړی کړئ. له هر ځانښت ډوډۍ خوړلو وروسته ارو مرو قدم ووهئ او که په هوټل کې اوسی، بالکون ته یې راووځی او تازه هوا واخلئ.

**۳- د هوټل په مینو کې تر ټولو سالم خواړه انتخاب کړئ**

کله چې تاسو پر سفر وی، نو معلومه خبره ده چې د اشپزۍ لپاره وخت نه لری او نه یې کېدای شي امکانات درته برابر وي، نو اړ یاست چې په هوټل کې خواړه وخوری. په داسې مواردو کې هڅه وکړئ چې د هوټل په مینو کې تر ټولو سالم او هغه خواړه انتخاب کړی چې پوهېږی روغتیا ته مو زیان نه رسوي او یا دا چې تر ډېره مو معده ور سره عادت ده.

**۴- د کوټې د یخچال کلی پټ ځای کېږدئ**

د بهرنیو هېوادونو په هوټلونو کې دا دود دی چې په کوټه کې اېښودونکی یخچال له پیپسي، ډول ډول انرژیو، ککو، قهوې او ان کله تازه مېوې هم په کې اېښودل شوې وي. پام مو وي چې دغه څه وړیا نه دي، خو پر بیې سربېره یې د خوړو هڅه وکړئ، هغه هم بیا بیا. که د دغه ډول خوړو او څښاک په څښلو کې افراط وکړی، کېدای شي د وزن پر زیاتوالي سربېره مو روغتیا ته هم زیان ورسوي.

**۵- اوبو څښلو ته لومړیتوب ورکړئ**

د سفر پر مهال د کافي او پاکو اوبو څښل د سفر له واجباتو بلل کېږي. پلی تګ، ګرمه هوا او په سر خلاصو ځایونوکې ډېر پاتې کېدل ارو مرو ستاسو د بدن د اوبو د کموالي لامل کېږي. هڅه وکړئ خو په موټر، د شا په بیک او د اوسېدو په ځای کې د څښلو اوبه ضرور در سره وساتئ او ویې څښئ.

**د سفر پر مهال روغتیا ته د پاملرنې تر څنګ دغو توکو ته هم اړتیا لری**

د سفر اړوند وسایل او توکي هغه څه دي چې د یوه مسافر لپاره تر بل هر څه ډېر اړین او ضروري بلل کېږي. د بیک توکي او کالي مو په دې پورې اړه لري چې په څه ډول او چېرته سفر کوی. یوه څه ته مو چې پام وي، هغه دا چې پخوانیو سفرونو بېلو او اوسني سفرونه بیا بېلو توکو او وسایلو ته اړتیا لري. د ټکنالوژۍ راتګ او د سفرونو نوی رنګ او اړخ دا ایجابوي چې تاسو باید د اوسنیو سفرونو پر مهال د پخوانیو هغو په پرتله بېل او نوي شیان در سره ولری. لکه څه ډول مو چې مخکې وویل، د سفر وسایل ستاسو د سفر په بڼه پورې اړه لري. پام مو وي چې له سفر مخکې د اړینو توکو لېست در سره مرسته کوي، څو په ارام فکر درته هغه څه تیار کړی چې د سفر پرمهال ورته اړتیا پیدا کوی. نو له سفر څو ورځې وړاندې دغه کار وکړئ او د اړینو وسایلو لېست در سره ولیکئ.

**۱- هغه څه چې د سفر پرمهال یې اغوندی**

د سفر پر مهال د اغوستونکو توکو په اړه یوه اصطلاح هم شته چې وایي: «یو اغونده او بل وچوه!» په سفر کې له ځان سره د زیاتو کالیو وړل یوازې ستاسو انرژي مصرفوي او بل دا چې اوس تاسو مجبور نه یاست چې هره ورځ د هوټل له کړکۍ وګوری چې هوا څه ډول ده، څو مناسبې جامې واغوندی. اوس کولی شی د اړونده هېواد ان د یوې اونۍ د هوا حالات وګوری او له هوا سره سم خپلې جامې هم تیارې کړی.

کېدای شي په سفر کې مېلمستیا ته دعوت شی، نو دغه ورځ هم باید په پام کې ونیسئ او مناسبې جامې ورته ولری. بله دا چې سیمې او موسم ته په کتو مو جامې برابرې کړئ. د بېلګې په توګه، که هوا ګرمه وي کولی شی پیک لرونکې خولۍ او که هوا یخه وي، بیا دست کش، د غاړې دستمال، جرابې، مناسب بوټ او نور اړین شیان در سره یوسئ.

**۲- بیک او بکس**

لوی بکس د دې لپاره ښه دی چې خپل ټول اړین وسایل په یو وار پکې ځای پر ځای کړی، خو کله چې بیا له هوټل څخه وځی او د ورځې په اوږدو کې په ښار او بازار کې چکر وهی، بیا د شا بیک در سره ښه ملګری کېدای شي.

**۳- د لومړنۍ مرستې بکسه**

که تاسو په خپل موټر کې په سفر ځی، نو د لومړنیو مرستندویه توکو بکسه له یاده ونه باسی. اوس په بازار کې د لومړنیو توکو په زړه پورې بکسې پیدا کېږي، چې کولی شی ان د کور لپاره یې هم واخلی او په بېړنیو حالتونو کې ترې ګټه واخلی. په دې بکسه کې پنبه، سپین الکول، د امونیک محلول، قیچي، پنس، د ټپونو چسپ، اسپرین او نور مسکن ټابلېټونه ځای پر ځای کېږي.

**۴- الکټرونیکي وسایل**

د سفر د توکو په لېست کې مو یو ځای الکټرونیکي وسایلو ته ځانګړی کړئ. کمپیوټر، چارچر، پاور بانک، د خوب لپاره ځانګړې غوږۍ، بټرۍ، برقي څراغ، فلش، کمره او بېرونی هارډېسک هغه څه دي چې په اوسنیو سفرونو کې ورته ډېره اړتیا لیدل کېږي.

**که په خپل موټر کې سفر کوئ**

په دې خو ټول پوهېږو چې کله کله په خپل موټر کې سفر کوو، نو تر هرڅه وړاندې باید هغه وسایل له ځان سره تیار کړئ چې د موټر لپاره په کارېږي. ډېری کسان دې شیانو ته پام نه کوي او بیا د لارې پر سره د یوه جېک لپاره هر چاته لاس اوږدوي. په داسې حال کې چې پر لویو لارو خلک د دغو وسایلو مرسته نه کوي. نو که کله په سفر ځی، مخکې له مخکې د ټولو هغو شیانو په اړه فکر وکړئ چې پوهېږی په کار مو راځي. که د سفر پخوانۍ تجربه نه لری، له هغه خلکو مرسته وغواړئ چې له دې وړاندې یې سفرونه کړي دي.

## په غزني او لسو نورو ولسوالیو کې ټاکنې نه کېږي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي چې د نا امنیو او ځینو نورو تخنیکي ستونزو له کبله په غزني او د افغانستان په لسو نورو ولسوالیو کې د ولسي جرګې او د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې نه کېږي.

د ټاکنو د خپلواک کمېسیون ویاند حفیظ الله هاشمي د یکشنبې په ورځ خبریالانو ته وویل: «د بغلان ولایت دهنه یې غوري، د بدخشان وردوج او یمګان، د سرپل کوهستانات، د زابل خاک افغان او د هلمند ولایت نوزاد، موسی کلا، دیشو، ریګ خانشین او بغران هغه ولسوالۍ دي چې د تلې په ۲۸ به ټاکنې د نا امنیو له امله پکې ترسره نه شي.» هغه وویل چې د غزني په ولایت کې بیا د سیاسي ستونزو له کبله ټاکنې نه کېږي. خو داسې انګېرل کېږي




چې ښايي د غزني ولایت ټاکنې د جمهوري ریاست له ټاکنو سره یو ځای وشي.

نوموړي وویل، چې د نوملیکنې پروسې له پیله تر دا مهاله په ټول افغانستان کې د ولسي جرګې ټاکنو لپاره نهه تنه نوماندان په بېلابېلو پېښو کې وژل شوي دي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون دغه راز وایي، د تلې په ۲۸ مه به ۲۳۵ زره ناظرین چې ۱۹ یې نړیوال دي، د ولسي جرګې له ټاکنو څخه نظارت وکړي.

نوموړي تېره ورځ په کابل کې خبریالانو ته وویل ۱۰۷ بنسټونو چې سیاسي ګوندونه، مدني بنسټونه، سفارتخانې او د ټاکنو د څار بنسټونه پکې شامل دي، د نظارت لپاره نومونه لیکلي دي.

نوموړي وویل: «تر اوسه ۲۳۴ زره او ۵۱۴ کسانو د نظارت کارتونه اخیستي دي چې له دې شمېرې څخه ۱۹ تنه یې نړیوال ناظرین دي.»

هاشمي وویل، چې د ټاکنو ټول حساس او غیر حساس وسایل او بایو مېټریک دستګاوې له ټولو ملحقاتو سره ولایتونو ته رسېدلي دي او ولسوالیو او ټاکنیزو مرکزونو ته یې هم د لېږد پروسه پیل شوې ده.

هغه وویل، چې د جمعې تر ورځې پورې به دغه وسایل ولسوالیو او د رایې ورکولو مرکزونو ته ولېږدول شي.

د ټاکنو د خپلواک کمېسیون ویاند سید حفیظ الله هاشمي وویل چې له بایومیټریک څخه د ګتې اخیستنې لپاره کمېسیون ۲۱ زره کارکونکي روزلي او لا هم دغه روزنه دوام لري.

د امنیتي ادارو مسوولان:

## ۵۰ زره سرتېري د ټاکنو ورځې امنیت نیسي

د کورنیو چارو، ملي دفاع او غوڅ ملاتړ ځواکونو تېره ورځ په کابل کې د یوې خبري غونډې پرمهال د ټاکنو ورځې لپاره د بشپړ امنیتي چمتووالي خبر ورکړ.

د کورنیو چارو وزارت ویاند نجیب دانش وایي، د رایې اچونې مرکزونو او محلونو کې یې د امنیتي ځواکونو ځای‌پرځای کولو چارې پیل کړې او د تلې میاشتې تر ۲٦مې به دوام وکړي.

د نوموړي په وینا، ۵۰ زره سرتېري به د ټاکنو ورځې امنیت نیسي او د اړتیا پرمهال به نور هم زیات شي.

په همدې حال کې د ملي دفاع وزارت ویاند غفوراحمد جاوید وایي، له نورو امنیتي ارګانونو سره په همغږۍ د ټاکنو ورځې امنیت خوندیتوب لپاره کار کوي او د ځمکنیو ځواکونو ترڅنګ به هوایي ځواکونه هم د خلکو او ټاکنیزو مرکزونو امنیت نیسي.

د امنیتي ادارو مسوولان زیاتوي، چې د ټاکنو پروسې د امنیت مدیریت د افغان ځواکونو پرغاړه دی.

بل خوا افغانستان کې د غوڅ ملاتړ ځواکونو ویاند کانت پېټر وایي، د ټاکنو پروسې اړوند ټولې امنیتي چارې د افغان ځواکونو پرغاړه دي او د غوڅ ملاتړ ځواکونه به په‌کې هېڅ رول ونه لوبوي.

د کورنیوچارو وزارت مسوولانو په خبره، امنیتي ځواکونه د رایې اچونې پرمهال د محلونو او مرکزونو امنیت ساتنې لپاره ۳ کمربندونه جوړوي چې لومړی به یې ټاکنیزو محلونو او مرکزونو ته نږدې، دویم د یادو مرکزونو په شاوخوا ۴۰۰ مترۍ کې جوړ شي او دریم هغه به یې سیارې ګزمې ولري.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۹۵ |
| € | ۸۷,۵۰ |
| Rp. | ۵۸۲ |
| ₹ | ۱۰۳۰ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹۸,٦۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** عبدالرقیب نوري
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین، حشمت نوري او جواد تیموري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily





مولوی عطاء الله فیضانی

ماستر فقه و قانون

علم، اهلیت و عدالت مستلزم وکالت است.

کابل څخه ولسي جرګې ته خپلواک نوماند

صفحه ۷ | شمېره ۳۳۶ | ټاکنیزه نښه

اهداف

«خَیرُ النَّاسِ مَن یَنفَعُ النَّاسَ»
- پاسداری از ارزشهای دینی
- احترام به منافع ملی و رعایت مصالح عامه
- تلاش در راستای احقاق حقوق علما، اعمار مساجد و گسترش معارف اسلامی و مراکز علمی
- سعی در تحقق عدالت اجتماعی، رفاه، مصالحه و مشارکت ملی
- مبارزه علیه مفاسد مالی، اداری و اخلاقی
- جلب توجهٔ حکومت به اشتغالزایی برای جوانان و مبارزه با بیکاری
- دفاع از حقوق حقهٔ مردم افغانستان بخصوص زنان در چهارچوب آموزه¬های اصیل اسلامی
- مبارزهٔ جدی در برابر زرع، قاچاق و اعتیاد به مواد مخدر و مسکرات
- تشویق تجار ملی برای سرمایه¬گذاری در بخشهای صنایع داخلی و انکشاف زراعت و مالداری
- ترویج فرهنگ حفاظت از محیط زیست و استفاده درست از آبهای کشور

و من الله التوفیق

اړیکې: ۰۷۹۶۵۵۵۵۷۵ – ۰۷۰۰۰۶۹۸۵۸ – ۰۷۸۸۹۷۰۱۰۳



دوشنبه د ۱۳۹۷ د تلې ۲۳مه | د ۲۰۱۸ د اکتوبر ۱۵مه | دويم کال | ۲۶۸مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily





« حاجي خان ته رايه؛
مثبت بدلون ته رايه! »

د خان ستېيل بنسټګر

## حاجي خان محمد وردګ

له کابل څخه ولسي جرګې ته خپلواک نوماند

8 پاڼه

432 انتخاباتي شميره

انتخاباتي نښه

info@khanwardak.com

0731020220
0731020260
0798144444

www.khanwardak.com


## نړۍ



## روحاني: امريکا هڅه کوي چې د ایران رژیم رنګ کړي




گل مرۍ لغمانۍ

له لغمان ولایت څخه ولسي جرګې ته خپلواکه نومانده

زموږ لاره د ایمان، باور او ریښتینولۍ ده.

ټاکنیزه شمېره 21

ټاکنیزه نښه

0782819031 - 0799852083
0784125596 - 0766575541

د لغمان ولایت پر مېړنیو ولسونو غږ کوم چې زما کورنۍ او کاري تجربه تاسې باعزته ولس ته معلومه ده.
الحمدالله په وياړ او جرات سره وايم نه مفسده يم، نه جاسوسه يم او نه هم د کوم چا له خوا فرمايشي نوماند شوې يم. لوړې زده کړې لرم په اداري کارونو او فرهنګ کې کافي اندازه تجربه او زيارکښه انسانه يم. له مظلوم ولس سره خاصه مينه لرم.
ستر هدف مې د هېوادوالو خصوصا د لغمان ولس ته خدمت کول دي. که غواړئ ستاسو غږ ته تل انعکاس ورکړم، ستاسو له حقوقو دفاع وکړم په قوانينو کې اسلاميت، افغانيت، انسانيت او اړوند کلتور ته کار وکړم نو لطفا پر ما باور وکړئ.
ستاسو له رايې به تر مرګه دفاع کوم او د امانت په توګه به سالمه استفاده تر وکړم.

ستاسو خور ګل مرۍ لغمانۍ




په هلمند کې افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونه له بلواګرو څخه د خلکو ساتنې ته ژمن دي. دوی د بلواګرو د پټنځايونو د له منځه وړلو په لټه کې دي. افغانان پر دغو سرتېرو وياړي او د سولې د ملاتړو په توګه د هڅو د سربندنو او وړتياوو درناوی کوي.

نیروهای ملی دفاعی و امنیتی افغان در هلمند متعهد به محافظت از مردم در مقابل شورشیان می باشند. آنها در تلاش از بین بردن پناهگاه های شورشیان هستند. افغان ها به این سربازان افتخار می کنند و از فداکاری و قابلیت آنها به عنوان حامیان صلح، قدردانی می کنند.

